٦٦٩

هفته نامه

بجز اصلاح اراده دیگری ندارم سوره هود ۸۸

اصلاح ملی

سیاسي، ټولنیزه او فرهنګي اوونیزه

۱۲مه ګڼه ۱۳۹٦ لمریز کال د جوزا ۲۷مه د ۱۴۳۸ هـ ق د رمضان ۲۲ مه د ۲۰۱۷م د جون ۱۷مه

دهه پایانی رمضان

غنیمتی برای

مؤمنان

بحران قطر و آمادگی به نبردهای مکه

کابل پروسه

به سولې ته لاره پرانیزي؟

له زغم څخه کار اخله

له زغم نه وتل یا بی حوصلې کیدل هغه وخت منځ ته راځي چې انسان له خپلو ورځنیو چارو او کړنو سره بې علاقې وي.
ژر په قهر کیدل یا غصه نه کابو کول په حقیقت که د ژوند په بیلابیلو برخو کې د ډاډ او اطمینان د نشتوالي په صورت کې را منځته کیږي.
دا له انساني غوښتنو څخه ده چې په خپلو کړنو او فعالیتونو که دوامدار تغیر او بدلون راولو. دماغي انډول یا توافق د دی سبب ګرځي چې مونږ نور له تکراري کارونو ځنې ستړي شو. دماغي توافق یعنې کله چې انسان په یوه روتین، ثابت، او پرته له تغییر کار کې بوخت شي. د مثال په ډول د یوه نوی تلفون له اخیستلو سره مینه او ذوق زیات وي اما وروسته له دوه میاشتو همدا تلفون بیا تکراري شي او هیڅ اهمیت نه لري. په همدی ډول د کورني ژوند روابط هم داسی دي.
باید په دې باندی وپوهیږو چې دا د انسان له غوښتنو ځنی دي چې په خپلو کړنو کی د تغیر غوښتونکی وي. هغه هم په پرلپسي توګه نو باید انسان په بعضو حالاتو کې له بعضو غوښتنو او غیري ضروری خواهشاتو ځني تیر شي که نه نو همیشه به بی حوصلی وي او روحي حالات به یې ښه نه وي او هیڅ کله به د ژوند په خوند ونه پوهیږي.
یو له هغه موضوعاتو څخه چې د ښځې او خاوند په ګډ ژوند کې د اهمیت وړ دي هغه دا چه خپلی ټولی ځانګړتیاوې باید یو ځل ښکاره نه شي. مثلاً مهارتونه، اخلاقی ځانګړتیاوې، هیلې او امیدونه، راوزونه، راتلونکي هدفونه او نور. دا ځکه چې که چیرې ښځه د میړه په راز او نیاز پوه شي نور نو هغه شوق او مینه چې پخوا د میړه سره موجوده وه نشته دا هغه فیلم ته ورته والی لري چې یوځل تر پایه وکتل شي د دوهم ځل لپاره بیا ډیر خسته کن تمامیږي، که همدا فیلم د سریال په ډول سره وکتل شي نو بیا به په ډیر شوق او تلوار سره د فیلم د کتلو مینه زمونږ په وجود کې پیدا شي.
اما دا په دې معنا سره نه ده چې مونږ مقابل لوري ته د دروغو په ویلو سره حقیقت پټ کړو. باید داسې خپل ژوند په مخ بوزو چې د هر ملاقات او لیدنې وروسته مونږ خپل مقابل لوري ته یو نوی خبر او ښکلی مطلب ولرو.
د دې لپاره چې خپل زغم قابو کړی باید لاندې ټکي په نظر کې ونیسئ
۱- کوښښ وکړئ چې په خپل ژوند کې تغیرات منځته راوړی که څه هم چې ناچیز وي.
۲- د زغم نه قابو کیدلو اساسي علت بې روزګاري او د فعالیت نشتوالی دی، په یوه کار ځان مصروفول د دې سبب ګرځی چې حوصله زیاته شي.
۳- بې معنا حس درلودل او یا د ځان سره دا احساس کول چې ژوند، دنده، او فعالیت مو بې هدفه دی... دا ټول د دې سبب ګرځي چې انسان د ځان وژنې تر سرحده پورې ورسوي. باید خپل ژوند بې معنی ونه ګڼو دا زمونږ دنده ده چې خپل ژند ته هدف وټاکو.
۴- هر ورځ یو نوی څیز زده کړئ او خپله پوهه زیاته کړئ.
۵- ځان ته تکلیف ورکړئ او په یوه فعالیت باندې مشغول شئ تر څو مو بدن ارامي احساس کړي. لکه لوبې او سپورت کول.
٦- باید په یاد ولرو چې هیڅ شی خسته کن نه وي. دا زمونږ بې حوصلی مغز دی چې هر شی را ته خسته کن ښکاري. بی حوصله ګي یو طبیعي شی دی چې مونږ ورسره مخامخ یو. خو مونږ باید خپلو تصوراتو ته تغیر ورکړو تر څو مو احساسات هم کابو شي.
۷- د خپل ځان سره باید بې تفاوته ونه اوسو او کوښښ وکړو تر څو له هر څه سره علاقه وښیو، خو باید متوجه اوسو چې د بل په شخصي کارونو کې دخالت ونه کړو.

اصلاح ملی را از اینجا بدست آورید:

کابل: تایمنی، چهارراهی حاجی محمد داد، سرک ۴، دفترمرکزی جمعیت اصلاح . موبایل: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲
کابل: کوته سنگی، سرک سیلو، بلاک های شاداب ظفر، انتشارات اصلاح افکار. موبایل: ۰۷۷۸۱۹۱۳۸۲
کابل: شهرنو، چهارراهی انصاری، کتاب فروشی رسالت. تیلفون : ۰۴۰۲۲۰۳۳۵۹
کابل: انتشارات مستقبل مقابل بلاک های شاداب ظفر
کابل: کمپیوتر فروشی اکاموي جاده نادر بشتون، مارکت الله نظر، منزل ۲ دوکان ۲۳ ، موبایل ۰۷۹۹۳۹۰۸۱۹
کابل: ده افغانان، کتاب فروشی بیهقی
کابل: انتشارات بنیاد علمی و فرهنگی مسجد جامع پل خشتی موبایلها: ۰۷۹۹۰۱۱۱۱۱ / ۰۷۵۲۲۲۲۲۲۲
ننگرهار: جلال آباد، چهل متره سرک، د سید اکرام دوکانونه، د ماشومانو زوړ مسجس ته څېرمه د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون:۰۷۰۰۶۳۲۴۸۰
ننگرهار: جلال آباد: اسحاقزی مارکیټ، لاندې منزل، اصلاح افکار. ټیلیفون:۰۷۹۳۷۷۸۸۸۱
کندهار: نوی ښار، د هرات سرک، د سرې جامع غرب طرف ته سوري مېنه د امام ابوحنیفه (رح) تعلیمي او کلتوري مرکز د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر. ټیلفون: ۰۷۰۵۲۳۰۵۸۳
لغمان: مهترلام ښار، حمزه مارکیټ. ټیلیفون: ۰۷۷۵٦۷٦۰۹۹
هرات: سرک باغ آزادی، ابتدای جاده محبس ابن سینا۱ انجمن اخلاق و معرفت . موبایل:۰۷۸۹۰۰۸۱۵۲ - ۰۴۰۲۳۷۰۱۲
بلخ: گذر استالفی ها، عقب لیسهٔ خانه نور، دفترساحوی جمعیت اصلاح. موبایل: ۰۷۸۸۸۰٤۰۵۵
کندز: شهرکندز، جاده ولایت، کوچه حاجی میری، پوهنتون سلام. ۰۷۸۷۷۰۳۷۲٤
بغلان: پلخمری، مارکیت اتفاق کتاب و قرطاسیه فروشی رسالت موبایلها: ۰۷۷۷٤۷٦٤٦۹ / ۰۷۰۰۵۸۹۸۵۷
لوگر: محمد آغه، واغجان بازار، پهلوی کلینیک حسین خیل . موبایل: ۰۷۷۵٤۳۸۷٦
لوگر: مرکز ، مدینه مارکیت سرک مسجد جامع ، کتاب فروشی سادات،سید عبدالحمید هاشمی.موبایل: ۰۷۰۰٤٤۹۸۸۱
پکتیا:دگردیزښار، مرکزی چوک ، دنی نمایندگی . وحیدالله:۰۷۷۹۲۱۳۸۲۲
خوست : افغان ټاور، شاته خوست مرکزي طبي لابراتوار دوهم پوړ د جمعیت اصلاح ساحوي دفتر ډاکټرمحمد ګلاب:۰۷۹۹۱۷٤۵٤٦ / ۰۷۷۷۱۷٤۵٤٦
تخار: بازارچه کتاب دکان مولوی حبیب الرحمن ۰۷۷۹٦۳٤۱۹۲
بدخشان: فیض آباد: ۰۷۰۷۸۳۱۳٦٤ / ۰۷۷۵۲۷۰۵۰۸
زابل: قلات، عمومی جاده، د تجارانو کوڅه د غوثي رهنمای معاملات ترخنگ، شمېره: ۰۷۷۳۵۸۰۲۰۹ / ۰۷۰٦۵۲۷۱۸٦
فراه: ناحیه سوم، مقابل مسجد جامع قاضی، مرکز علمی و فرهنگی توحید. موبایل: ۰۷۹۹۸٤۳٦۱۱
نیمروز: سرک ولایت ، نارسیده به قوماندانی امنیه، مرکز علوم قرآنی اعجاز، سید امیر قریشی: ۰۷۹٦۳۰۹۱٤۰

قیمت یک شماره ۱۰ افغانی

سرمقاله

و بازهم سخن از صلح

اینک در دهه‌ی اخیر ماه مبارک رمضان قرار داریم و این ماه رحمت و مغفرت و رهایی از آتش دوزخ را داریم عنقریب به پایان می رسانیم، مع الاسف در دهه‌ی اول این ماه مبارک، خاطراتی با صوم و قیام مان پیوند خورد و کشتار و وحشتی را مردم مسلمان کشورمان در همین پایتخت کشور (شهر کابل) شاهد بودند، که در تاریخ این سرزمین کم پیشینه گفته شده و نسل امروز افغانستان، نمونه اش را تجربه نکرده بود.

نزدیک به هزار انسان بی‌گناه، در همین نیمه‌ی اول این ماه مبارک، یا مجروح گردید و یا هم به کام مرگ رفت؛ ملیون‌ها دالر خساره‌ی مالی به کشور و مردم مان وارد شد و اقتصاد ما یک‌بار دیگر، صدمه‌ی بزرگی را متقبل گردید.

انفجار و انتحاری که حتا توانست، بر شگاف‌های قومی، سمتی و حزبی اثر بگذارد و فاصله میان حکومت و ملت را نیز، عریض تر کند. چیزی که شاید یکی از عوامل عمده‌ی آن، بر بگردد به حکومت وحدت ملی و در رأس نشته‌گان کم کار و همدیگر ستیز آن. چه بسا که سیاسیون و اهل نظر را باور برین است که ریشه‌ی اصلی این نا امنی‌ها و خشونت‌ها در کشور، روی‌همرفته در اختلافات ذات البینی است؛ راستی هم عاملی است، سخت جالب توجه و قابل مکث.

سالیانیست که این ملت با همه لاف و پوف‌های که هم پیمانان خارجی حکومت برای رسیدن این ملت، به امنیت و ترقی و رفاه تحویل این ملت بیچاره می‌دهند، باز هم کشور در آتش جنگ دست و پا می‌زند، با وصف همه بذل مساعی در جهت سرکوب مخالفان، هنوز آتش جنگ روز به روز شعله‌ورتر شده و دائره‌ی خشونت‌ها وسعت می‌یابد. با این‌که ملت افغانستان و حکومت داران این کشور، بار بار فریاد صلح سر داده اند و دروازه‌ی گفتگوها را برای رسیدن به صلح، باز نگه داشته اند، اما بنا به عواملی که عمدتاً ناشی از مداخلات بیگانه‌گان و اعتماد حاکمان به اغیار خوانده شده، فریادهای صلح، اثری نداشته و مخالفان مسلح نظام، کمتر توجهی به این داعیه نموده اند. ضمن آن، شاید باتوجه به آنچه از مخالفت‌ها و کشیدگی‌های که میان سران حکومت وجود دارد، این پرسش پیش بیاید، حکومتی که در درون با خود درگیر است و سرانش در میان خود آماده‌ی صلح نیستند و حکومت را بر لبه‌ی پرت‌گاه سقوط برده اند، چگونه با مخالفان مسلح بتوانند به صلح دست یابند؟؟ پرسشی که هر هموطن ما حق دارد به آن پاسخ یابد؛ زیرا یکی از شرایط برجسته‌ی صلح با مخالفان، یک‌پارچگی درونی و داشتن یک سیاست واحد و همه گیر است. صلح، می‌طلبد تا اطراف مصالحه، به ویژه جانب مقتدر آن که حکومت افغانستان است، موقف روشن داشته و بدون مداخله‌ی کشورهای خارجی، روند افغانی مصالحه را شکل دهند و از عالمان دین و مصلحانی که تا هنوز با هیچ گروه و جریان ذیدخل در جنگ‌های افغانستان رابطه نداشته اند، استمداد بجویند.

در طول این مدت برای ملت ما و شاید هم به حکومت افغانستان ثابت شد، که خارجی‌ها و به ویژه آمریکا، به هیچ قیمتی در افغانستان صلح نمی‌خواهند و منافع شان را در صلح و آرامی افغانستان نمی‌بینند. آنان مسیر جنگ را برای رسیدن به اهداف نا میمون منطقوی شان در افغانستان با استفاده از افغان‌ها دنبال می‌کنند و تمکینی در برابر فریاد صلح جویانه‌ی افغان‌ها نخواهند داشت.

پس با این درک، که مفاد جنگ به بیگانه‌ها و قدرت‌های بزرگ جهانی و منطقوی بر می‌گردد و خسارات جانی و مالی جبران ناپذیر آن به افغان‌ها، بیایید دروازه‌ی صلح را با عزم متین دق الباب کنیم و محض برای خدا، با یک نگاه خداباور و انسان مدار، مسیر صلح را در پیش بگیریم. به هر دو جناح (مخالفان مسلح و زعمای حکومت وحدت ملی) خطاب می‌کنیم، که بیایید ازین بیش کشورمان را به تباهی نبریم، ملت مان را بیشتر ازین خار و بیچاره نسازیم و با ختم ماه مبارک رمضان، ایام فرح بخش عید سعید فطر را، سرآغاز شادی‌های دائمی و صلح و سلامتی در کشور ماتم زده‌ی مان بسازیم؛ به جنگ نه بگوییم و موهبت صلح را با کمال صداقت به تجربه بگیریم.

جمعیت اصلاح افغانستان

بخش فرهنگی و نشرات

هفته نامه اصلاح ملی اونیزه

داسلام داصیل فهم منبر

Email:eslahmilli@gmail.com

مدیر مسؤول

محمد شعیب قریشی

اعضای هیأت تحریر:

نقیب الله حمید
سردارمحمد دیندارخیل
رحیم الله حریفال
عزیزاحمد حنیف
وحید الله مصلح
عبدالوهاب هائد

طرح و دیزاین: الیاس نوری
۰۷۸۲۵۹۲۶۲۰

شماره مسؤول توزیع: ۰۷۸۰۷۴۱۳۱۲

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001202080036 (Afghani)

آدرس بانکی: جمعیت اصلاح و انکشاف اجتماعی افغانستان
نوی کابل بانک
A/c No: 1001201080036 (Dollar)

آیا «کابل پروسه» به سولې ته لاره پرانیزي؟

د ستراتېژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

تېره اوونۍ له خونړیو امنیتي پېښو او ژورو سیاسي او داخلي اختلافاتو سره سره، په پلازمینه کابل کې د «کابل پروسې» تر نامه لاندې د سولې او امنیت په نوم نړیوال کنفرانس جوړ شو. په دغه کنفرانس کې د پاکستان، ایران، امریکا او برېتانیا په ګډون د ۲۳ هېوادونو او څو نړیوالو سازمانونو استازو ګډون وکړ.

د افغان حکومت په نوښت او مشرۍ د دغې پیل شوې پروسې مدیریت او د پریکړو عملي کول به له افغان حکومت سره وي، کوم څه چې دا پروسه له پخوانیو دا ډول پروسو بېلوي. افغان ولسمشر اشرف غني دغه کنفرانس ته د خپلې وینا پرمهال وویل: «موږ نن دلته راټول شوي یو، څو د ترهګرۍ او وحشت پرضد یو بل ته لاسونه ورکړو او معلومه کړو چې د سولې مینه‌وال یو، د سولې د راوستلو ظرفیت لرو او د سولې په اړه ریښتیني یو... که چېرې افغان حکومت او طالبان د منلو وړ د سولې لار-نقشې د جوړولو لپاره هوکړه وکړي، نو افغان حکومت چمتو دی، چې طالبانو ته اجازه ورکړي، ترڅو د خپلې نمایندګۍ یو دفتر خلاص کړي.»

دا چې د کابل پروسې اصلي موخه څه وه؟ د سولې بهیر په بیا پیل کې رول څه دی؟ آیا له دغې پروسې سره د حکومت د سولې تګلاره د بدلېدو په حال کې ده؟ او د کابل پروسې له کنفرانس څخه وړاندې د ملي یووالي حکومت د سولې د تګلارې ارزونه څه ده؟ هغه پوښتنې دي چې د ځوابولو له لارې یې پر موضوع شننه کوو.

د ملي یووالي حکومت د سولې تګلارې ارزونه

د ملي یووالي حکومت له جوړېدو راهیسې، د افغانستان د جګړې ختمول، د امنیتي ځواکونو پیاوړي کول او د سولې پروسه د هېواد د بهرني سیاست مهم عنصرونه وو. د وروستي هغه په موخه افغان ولسمشر د خپلو بهرنیو سفرونو لړۍ له چین، سعودي او پاکستان څخه پیل کړه او د سولې پروسه کې یې د اسلام‌اباد د پاملرنې زیاتولو په موخه دوی ته ګڼ امتیازات ورکړل. له همدې امله هم د سولې په تړاو د کابل ډېره تکیه پر پاکستان وه.

د افغانستان د سولې په تړاو له پاکستان او چین سره یوځای درې‌اړخیزې هڅې هم پیل شوې، چې د ارومچي یوه ناسته یې ښکارندویي کوي. دا هڅه هم وشوه چې په هغو درې‌اړخیزو ناستو کې د طالبانو په ګډون سره خبرې اترې څلوراړخیزې کړي؛ ځکه د ارومچي ناستې تر ډېره د افغان طالبانو د لویې هستۍ استازیتوب نه شو کولای.

د ملي یووالي حکومت په دغه ټول بهیر کې له افغان طالبانو سره د سولې د خبرو اترو په برخه کې یوازې د مري د خبرو اترو بریا درلوده؛ خو هغه پروسه هم د ملا محمد عمر د مړینې له افشا کېدو سره تم شوه. وروسته د پاکستان، چین، افغانستان او امریکا ترمنځ د افغان سولې په تړاو څلور اړخیزې خبرې اترې هم پیل شوې؛ خو هغې پروسې هم په عملي ډګر کې بریالیتوب نه درلود او طالبانو پکې له ګډون څخه انکار وکړ چې له کبله یې مخامخ خبرو اترو ته لاره خلاصه نه شوه. د هغې پروسې د ناکامۍ یو عمده لامل، افغان طالبانو ته په سمه توګه د استازیتوب ورکولو پرځای، دوی ته د پاکستان له لارې بلنه ولېږل وو او دا چې که چېرې دوی خبرو اترو ته حاضر نه شي، نو د دوی پرضد به ګامونه اخیستل کېږي؛ که څه هم پاکستان د سولې په څلور اړخیزه پروسه کې دا خبرې ومنلې او د داسې کولو ژمنې یې هم وکړې؛ خو وروسته یې بیا هېڅ ونه کړل. همدا لامل و، چې د کابل-اسلام‌اباد ترمنځ دوه‌اړخیزې اړیکې هم د بل هر وخت په پرتله د خرابېدو په لور ولاړې.

د کابل پروسې اصلي موخې

دا چې د ملي یووالي حکومت د سولې او امنیت

په تړاو د کابل پروسې اصلي موخې څه وې، په لاندې برخو کې ورته اشاره کوو:

• د افغانانو په مشرۍ او ابتکار؛ که څه هم د ملي یووالي حکومت له جوړېدو وړاندې او وروسته هم د افغانستان د سولې او امنیت په تړاو ډېر کنفرانسونه وشول؛ خو د کابل پروسې کنفرانس ځانګړتیا په دې کې وه، چې دا د افغانانو په مشرۍ، ابتکار او مدیریت سره پیل شو او له همدې امله یې له نورو سره توپیر درلود.

• طالبانو ته د خبرو اترو «وروستی» وړاندیز؛ افغان ولسمشر په نوموړي کنفرانس کې لومړی د سولې په تړاو د حکومت ریښتینولي او صداقت ته اشاره وکړه او بیا یې وویل: «زموږ هدف سوله ده نه بریا، خو سوله تر هغو نشي راتللی چې طالبان ورته چمتو نشي. که چېرې افغان طالبان او افغان حکومت د سولې د نقشې په لارې هوکړه وکړي، نو افغان حکومت چمتو دی، چې طالبانو ته اجازه ورکړي ترڅو خپله یوه رسمي نماینده‌ګي پرانېزي. موږ د سولې لپاره یوه موقع ورکوو، خو دا هم باید روښانه وي چې دا موقع به تر ابده پرانیستې نه وي.»

• د نورو سیمه‌ییزو پروسو بندول؛ د کابل پروسې لومړی کنفرانس د مسکو له درې‌اړخیزې پروسې پنځه میاشتې وروسته په کابل کې جوړ شو. د افغانستان د سولې په تړاو د مسکو پروسه د روسیې، چین او پاکستان ترمنځ وروسته له هغه پیل شوه، چې کله په سیمه کې یو شمېر جیو-پولیټیک بدلونونه رامنځته شول. خو افغان حکومت د مسکو پر پروسې ډېرې نیوکې وکړې؛ ځکه دا پروسه د افغانستان د استازي له ګډون پرته د افغانستان په تړاو وه. افغان ولسمشر هم، د کابل پروسې کنفرانس ته د خپلو خبرو پرمهال همدې ټکي ته اشاره وکړه او ویې ویل: «د سولې اړوند بحث ډېر پاشلی دی. ګڼ شمېر لوبغاړي پر ګڼ شمېر لارو روان دي. ډېر لږ وضاحت شته چې دوی څوک دي او د څه شي استازیتوب کوي؟ دا د سوءتفاهم نسخه ده. هغه څه چې موږ اوس تر هر څه ډېره اړتیا ورته لرو، تمرکز دی...خو په مقابل کې یې غواړو چې تاسو هم د افغانانو په مالکیت او مشرۍ د سولې د یوې منسجمې پروسې تمامیت ته درناوی وکړئ او خپلې جلا لارې خلاصې نه کړئ. جلاجلا چاینلونه ګټور نه تمامېږي، زموږ هڅې هغه وخت نتیجه ورکوي چې په ګډه کار وکړو.»

• پاکستان سره د اړیکو بیا پیلول؛ له تېرو څو میاشتو راهیسې د افغانستان او پاکستان ترمنځ اړیکې ترټولو خراب وضعیت ته رسېدلې او افغان حکومت د افغانستان د سولې په برخه کې پر پاکستان ډېر بدګومانه شوی دی. له همدې کبله یې په هند کې د اسیا زړه کنفرانس کې د پاکستان ۵۰۰ میلیون ډالره مرسته رد کړه؛ خو د کابل پروسې پرمهال افغان ولسمشر وویل، موږ ته تر ټولو مهم لومړیتوب له پاکستان سره د مذاکراتو د یوې موثرې لارې پیدا کول دي. که څه هم موږ پاکستان ته د ملګرتیا لاس ورکړ، خو رد شو. دوه‌اړخیز، درې‌اړخیز، څلوراړخیز او ان ګڼ‌اړخیز مذاکرات مو هم وازمایل خو پایله یې ونه لرله. بیا هم موږ غواړو د دې جوګه واوسو چې پر پاکستان باور وکړو. البته زموږ ننګونه دا ده، چې موږ نه شو معلومولای پاکستان څه غواړي؟ څه شی په کار دي، څو پاکستان په دې قانع شي، چې یو باثباته افغانستان له دوی او زموږ له سیمې سره مرسته وکړي؟

دغه راز افغان ولسمشر کنفرانس ته د وینا پرمهال له پاکستانه وغوښتل، چې خپلې غوښتنې مطرح کړي او د مذاکرې لپاره اجنډا او میکانیزم افغان حکومت ته وړاندې کړي، چې په مرسته یې سیمه سولې او ثبات ته ورسېږي.

• په امنیتي برخه کې له کابل سره همکاري؛ له ۲۰۰۱ کال وروسته د افغانستان د قضیې په تړاو سیمه‌ییزه اجماع رامنځته شوې وه؛ خو له ۲۰۱۱ کال وروسته دغه سیمه‌ییزه اجماع اغېزمنه شوه او د ملي یووالي حکومت پرمهال بیا د بل هر وخت په پرتله له کړکېچونو او اختلافاتو سره مخ شوه. د افغانستان په تړاو د مسکو پروسه او د روسیې او یو شمېر نورو هېوادونو و لوړپوړو چارواکو څرګندونې یې ثبوت دی. له همدې کبله د کابل پروسې کنفرانس کې هم، اشرف غني د خپلې وینا یوه برخه په همدې ټکي راڅرخوله، چې موږ د سیمې د تروریزم او مخدره توکو پرضد د قاچاق په لومړۍ کرښه کې یو او د نورو هېوادونو جګړې هم مخته بیایو. له همدې امله یې له سیمه‌ییزو هېوادونو وغوښتل، چې له دوی سره په امنیتي برخه کې همکاري زیاته کړي؛ ځکه د ده په اند د امنیتي ځواکونو پیاوړتیا به طالبان مات کړي. دغه راز د ګډ ګواښ «تروریزم» له منځه وړلو په موخه یې پر سیمه‌ییزو هېوادونو د امنیتي اېتلافونو په رامنځته کولو هم ټینګار وکړ.

آیا د سولې نوی بهیر پیل شو؟

د اشرف غني له‌خوا د کابل پروسې په کنفرانس کې وړاندې شوې طرحې که څه هم د ده له تېرو تګلارو سره ډېر توپیر نه درلود؛ خو بیا یې هم یو څه نوي او مهم ټکي درلودل. په دغه کنفرانس کې اشرف غني د سولې په تړاو خپل صداقت وښود، له پاکستان او طالبانو سره یې د تېر په څېر بیا پر خبرو اترو ټینګار وکړ او دا چې څوک خبرو اترو ته نه حاضرېږي باید پرضد یې اقدامات وشي او د افغانستان د سولې او امنیتي ځواکونو د پیاوړتیا په موخه سیمه‌ییزه اجماع رامنځته کول، د تېرو تګلارو عنصرونه وو.

دا ځل یې په تګلاره کې نوي څېزونه د ګډ ګواښ (تروریزم) د له‌منځه وړلو په موخه امنیتي اېتلافونه رامنځته کول، د ملګرو ملتونو د تروریزم-ضد تګلارې عملي کول؛ او تر دغې پروسې لاندې اکاډمیک بحثونه پرمخ بېول وو. که څه هم د کابل پروسه تر ډېره هغه وه، چې پورته بیان شوه؛ او افغان طالبانو د دې کرښو تر لیکلو پورې په دې تړاو کومه رسمي اعلامیه نه ده خپره کړې؛ خو بیا هم د طالبانو په رسمي وېب‌پاڼه کې په دې اړه یوه مقاله راغلې او هلته یې غبرګون منفي دی. په دغه لیکنه کې استدلال شوی، چې که څه هم غني د سولې غږ طالبانو ته کاوه؛ خو مخاطب یې پاکستان و. په وینا یې، دوی دې راوړاندې شي او د سولې لپاره دې افغان حکومت ته یو مېکانیزم ورکړي. دغه راز د اشرف غني پر لهجه او ځینو ټکو هم توندې نیوکې شوې او په پای کې یې دا پروسه د سولې راوستلو په موخه نه ده بللې.



دهه پایانی رمضان
غنیمتی برای مؤمنان

الله متعال بنا به حکمتش که از بندگان پنهان است برخی از ماهها و روزهای سال را بر برخی دیگر برتری بخشیده، ماه رمضان شاه و سرور همه ماههای سال به شمار می‌آید و عبادت روزه تاج با شکوه آن است. و طاعات و عبادات در این ماه را اجر و پاداشی خاص است.

ده روز اول ماه رمضان دهه‌ی تلاش برای رسیدن به مغفرت الهی است. و ده روز دوم آن سعی و کوشش برای یافتن رحمت الهی است و دهه‌ی سوم آن آرزوی رسیدن به نجات از آتش سوزان جهنم است!..

ده روز اخیر ماه رمضان با عبادت اعتکاف جلال و جمال خاصی بخود می‌گیرد. این ده روز اخیر در این ماه پرشکوه و با مکانت در درگاه الهی جایگاه خاصی دارد. شب تلاقی و رسیدن زمین به آسمان، و فرود آمدن کلام ملکوتی رحمان؛ کلام پاک یزدان؛ شب قدر یکی از شب‌های همین ده روز آخر ماه مبارک رمضان است. شبی که به از هزار ماه به نص پاک قرآن است. ﴿لیلة القدر خیرا من الف شهر﴾.

آری! شب قدر بهتر است و والاتر از هزار ماه که بیش از ۸۳ سال عمری است که تنها در عبادت و نیایش سپری گردد!..

این ده روز آخر ماه مبارک را چگونه بگذرانیم تا خدای ناکرده در روز رستاخیز حسرت آن را نخوریم؟..

پیامبر خدا (صلی الله علیه وسلم) و یاران و شاگردان او و پس از آن‌ها صالحان و نیکوکاران را در این ده روز پایانی ماه مبارک شور و حالی خاص بود. آن‌ها در این ده روز اخیر بیش از هر چیزی به عبادت و طاعت و راز و نیاز با خدا، دعا، نیایش و تلاوت قرآن کریم مشغول می‌شدند. همه‌ی لحظات آن‌ها در این ده روز عبادت بود و نماز و تهجد و بر پایی شب‌های آن و ذکر و نیایش و قرآن و ادای زکات و کرم و سخاوت و رسیدگی به مستمندان و حاجتمندان و..

در اینجا به برخی از مهمترین و با ارزشترین کارهایی که می‌توان در این ده روز پایانی ماه با انجام آن در بهشت برین الهی سرمایه‌گذاری نمود اشاره می‌کنیم. امیدواریم با اهتمام به این عبادت‌ها و اخلاص و تفانی در آن بتوانیم رضایت الهی را با وجود ضعف و ناتوانی و گناهانمان جلب نموده، در مکانت و جایگاهی که خداوند برای پیامبران و مؤمنان و صالحان در بهشت برین ترتیب داده با آن‌ها محشور گردیم.. الهی آمین!

۱- شب زنده داری..

در حدیث صحیحی مادر مؤمنان عائشه؛ بانوی دانشمند اسلام، اهتمام پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) به دهه‌ی اخیر رمضان را چنین تصویر کشیده: وقتی ده روز آخر رمضان شروع می‌شد پیامبر خدا (صلی الله علیه وسلم) شب‌ها را با ذکر و عبادت و نیایش زنده نگه می‌داشت. و خانواده‌اش را بیدار می‌کرد. و کمر طاعت و عبادت محکم می‌بست. «بروایت بخاری و مسلم»

و در روایتی دیگر فرموده‌اند: بیاد ندارم که پیامبر خدا (صلی الله علیه وسلم) همه قرآن را در یک شب بخواند، و یا شبی را تا صبح مشغول عبادت باشد، و یا تمام ماهی را روزه بگیرد مگر در ماه مبارک رمضان. «بروایت نسائی»

پس شب زنده‌داری یعنی اینکه همه شب و یا بیشتر آن را و بخصوص یک سوم آخر شب را مشغول عبادت و ذکر و نیایش باشی..

در ساعات آخر شب خداوند از آسمان ندا می‌دهد که ای بندگان من آیا در بین شما کسی است که دست توبه بسوی من دراز کند تا او را ببخشایم!

آیا شایسته است بنده چنین فرصت طلایی را از دست دهد و در خواب غفلت باشد؟!

۲- همراه کردن خانواده در عبادت

پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) در این روزهای مبارک آخر ماه فضیلت و برتری رمضان خانواده‌اش را بیدار می‌کرد تا از فیض و برکات این ساعات بهره‌مند شوند. و بنده‌ی مؤمن را

شایسته است چون رهبر و پیشوای محبوب و پیامبر عزیزو ارجمندش خانواده‌ی خود را در این ساعات پر فیض بیدار کند تا از قافله‌ی رحمت و کاروان بهشت و رضایت الهی عقب نمانند.

۳- کمر طاعت بستن

در این ده روز پایانی رمضان باید مرد مؤمن آستین همت بالا زند و لحظه لحظه‌ی این ساعات را غنیمت شمرده جز به عبادت و طاعت به هیچ چیز دیگری نیندیشد. کارها و مشغولیات عمر تمامی ندارد. و وسوسه‌های نفس اماره تلاش دارد این ساعات پربها را از دست انسان برباید. مرد مؤمن بایستی در این روزهای آخر ماه مبارک قلب و روح و روانش را از دنیا و پستی‌های آن کنده در فضائی ملکوتی و روحانی همراه با فرشتگان آسمان مشغول طاعت و عبادت پروردگار یکتا، خالق کون و مکان باشد.

۴- به اعتکاف نشستن

اعتکاف مدرسه‌ای است که در آن روح و روان انسان تربیت شده صیقل و جلا داده می‌شود. انسان از پستی دنیا بسوی فضای ملکوتی فرشتگان پر می‌کشد. اعتکاف یعنی بریدن از شهوت‌ها و صفات خاکی و حیوانی آدمی و پرواز بسوی صفات ملکوتی بهشتیان.

در اعتکاف گویا بنده به گناهان و کوتاهی‌هایش اقرار کرده بر در درگاه الهی نادم و پشیمان دست دراز کرده و می‌گوید: خدایا، من بر همه‌ی آنچه از من سر زده اعتراف می‌کنم و می‌دانم که مرا نه پناهگاهی است و نه خدایی و نه بخشاینده‌ای جز تو ای کریم بی‌همتا.. حال من به خانه‌ات آمده ام و طناب حاجت بر گردن بندگی خود بسته‌ام و تا مرا نبخشی از خانه‌ات بیرون نخواهم رفت!.. آیا گمان می‌بری که از درگاه کریمی چون او جز مغفرت و رحمت و رضایت نصیب این بنده خواهد شد؟!!..

رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هر ساله ده روز آخر ماه رمضان را در گوش‌های از مسجد دور از سر و صدای زندگی مشغول عبادت و راز و نیاز با آفریدگار خود می‌شدند، و در سالیکه جهان را ترک گفته به دعوت محبوب خویش لبیک گفتند بیست روز آخر ماه رمضان را به اعتکاف نشستند. «بروایت بخاری»

امام زهری حیرت‌زده به مسلمانان دربند دنیا می‌نگریست و می‌گفت: بسی در حیرتم از حال مسلمانان! چگونه اعتکاف را ترک می‌کنند در حالیکه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) از روزی که به مدینه تشریف بردند تا روز وفاتشان هرگز اعتکاف ده روز آخر ماه رمضان را ترک نکردند!..

شب قدر که بزرگترین هدیه و ارمغان رمضان است در دهه‌ی اخیر این ماه مبارک قرار دارد. و کسی که در اعتکاف است تمام ساعات روز و شبش را در مسجد و در حال عبادت بسر می‌برد. حتی خواب و راحتش در مسجد عبادت است. پس او در هر صورت شب قدر را درخواهد یافت. و در حالی شب قدر بر جهان می‌گذرد که او در عبادت و طاعت الهی و بدور از گناه و معصیت بسر می‌برد.

اعتکاف باعث پاکی قلب و روح و روان انسان می‌گردد. و اگر قلب انسان پاک گشت همه‌ی جانش پاک خواهد گشت.

اعتکاف مدرسه‌ی بزرگ انسان سازی است، انسان در مدرسه‌ی اعتکاف می‌آموزد چگونه از دوستان ناباب و از حرف‌های بیهوده، و از پرخوری و پر خوابی و دیگر بیماری‌های روح و روان و جسم وجان دوری کند.

بدون شک بالاترین درجه‌ی اعتکاف آن چیزی است که پیامبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) انجام می‌دادند. ده روز کامل را در مسجد در حال عبادت می‌گذراندند. البته اشخاصی که بنا به دلایلی قادر نیستند همه‌ی ده روز را در اعتکاف باشند نباید خود را از اجر و پاداش بزرگ آن به کلی محروم سازند. این افراد می‌توانند به اندازه‌ی توان خود یک روز و یا چند روز و چند وقتی را که می‌توانند با نیت اعتکاف به مسجد بروند و فرصتی را که دارند مشغول عبادت شده خود را با کاروان معتکفانی که آستین همت برای رسیدن به رضایت الهی بالا زده‌اند همراه شوند.

تلاوت قرآن کلام پاک یزدان یکی از مهمترین عباداتی است که بنده‌ی مؤمن در این ماه مبارک رمضان باید بدان مشغول باشد. چرا که رمضان ماه عبادت و موسم قرآن است. رسول الله (صلی الله علیه وسلم) هر ساله یک بار قرآن را با جبریل می‌خواند و در سالی که ندای حق را لبیک گفت و جان بجان آفرین تسلیم نمود دو بار قرآن را با جبریل تلاوت نمود.

و می‌فرمودند: قرآن را بخوانید که شما را برای هر حرف قرآن اجر و پاداشی است. و هر اجر و پاداشتان در پیش خداوند ده برابر می‌شود. نمی‌گویم: «الم» یک حرف است!.. بلکه: «الف» یک حرف و «لام» یک حرف و «میم» یک حرف است! «بروایت ترمذی»

و این قرآن در روز قیامت از کسی که آن را تلاوت کرده، بدان عمل می‌کرد، در پیشگاه الهی در حالیکه سوره بقره و سوره آل عمران پیشاپیش قرار دارند از او دفاع می‌کند. «بروایت مسلم»

با وجودی که بزرگان دین از ختم کامل قرآن در یک روز در حالت‌های عادی منع می‌کردند، چون این سرعت را باعث ضایع شدن خواندن درست تلاوت و عدم فهم و درک صحیح معانی می‌دانستند، ولی در روزهای پرفیض رمضان و بخصوص ده روز آخر ماه مبارک در آن هیچ اشکالی نمی‌دیدند. از امام ابو حنیفه و امام شافعی و امام اسود بن یزید و حافظ ابن رجب و بسیاری دیگر از علما و بزرگان دین روایت شده که آن‌ها در هر شب از شب‌های پر فیض آخر رمضان قرآن را یکبار بطور کامل تلاوت می‌کردند.

از الله متعال مسألت داریم که به ما توفیق عمل شایسته دهد و ما را در پناه رحمت و مغفرت خویش قرار داده از عذاب هولناک و آتش سوزان جهنم نجات دهد. و عبادات و طاعاتمان را در این ماه پر فیض مورد قبول دریای جوشان رحمتش قرار دهد. و اجر و پاداش شب قدر را نصیبمان گرداند...

شانگهای سازمان غونډه

افغانستان ته یې ګټې او د بشپړ غړیتوب ژمنې!

اصلاح رسنیز ګروپ/ نعمت الله عزیزي

د شانګهای سازمان اولسمه سرمشریزه غونډه د قزاقستان په آستانه ښار کې په داسې حال کې ترسره شوه چې په سېمه کې د ترهګرۍ پراختیا او د نشه‌یي توکو قاچاق د سېمې هېوادونه په زیاتیدونکي ډول ګواښي او له بل لوري چین، روسیه، ایران او آن پاکستان په افغانستان کې د امریکا او ناټو له شتون څخه اندیښنې لري.

د شانګهای د همکاریو سازمان چې ورځ تر بلې پراختیا مومي او په وروستیو کې په سېمه کې د ستر اقتصادي او سیاسي بلاک په توګه یادېږي، چې د چین او روسیې په ګډون د سېمې ځینې هېوادونه پکې ګډون لري او ګڼ نور هېوادونه پکې د غړیتوب هڅې کوي چې په دې لړ کې په وروستۍ ناسته کې د هند او پاکستان بشپړ غړیتوب هم ومنل شو.

د دې سازمان په ۱۷مه سرمشریزه کې افغان ولسمشر محمد اشرف غني هم ګډون کړی ؤ چې د خپلو خبرو په ترڅ کې یې په سېمه کې د ډېریدونکو ګواښونو، ستونزو او ترهګرۍ پر وړاندې پر ګډه مبارزه ټینګار وکړ.

شانګهای سازمان چې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال د (روسیې، چین، تاجکستان، قزاقستان، قرغیزستان او ازبکستان) له خوا رامنځته شو، ورځ تر بلې پراختیا مومي او د غړیو هېوادونو شمېر یې زیاتېږي، افغانستان هم له ۲۰۱۲ زیږدیز کال راهېسې د څارونکي غړی په توګه د یاد سازمان په ناستو کې ګډون کوي او د بشپړ غړیتوب ژمنې هم شوې دي.

شانګهای سازمان افغانستان ته څه اهمیت لري؟

د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی وایي: شانګهای سازمان هم ګټې او هم نیمګړتیاوې لري کله چې په سېمه کې غونډې جوړېږي او د سېمې په کچه پریکړې کېږي نو د سېمه‌ییزو هېوادونو ګډون پکې ضروري وي او دا چې چین، د منځنۍ آسیا هېوادونه او تقریباً روسیه هم د افغانستان ګاونډیان دي نو په دغسې یو سازمان کې د افغانستان ګډون د سېمه‌ییزو موضوعاتو، په سېمه کې د اقتصادي پراختیا او نورو مسایلو په برخه کې د افغانستان لپاره ګټور تمامیدلای شي.

د ښاغلي نیازي په وینا شانګهای سازمان چې د چین او روسیې له خوا په سېمه کې د ناټو او امریکا د پراختیا غوښتنې پر وړاندې رامنځته شوی چې افغانستان ته له څو اړخونو د اهمیت تر څنګ ستونزې هم لري، ځکه دلته د امریکا قواوې شتون لري او دا شتون د د سېمې هېوادونو او په ځانګړې ډول د شانګهای هېوادونو ته د خطر زنګ دی او دوي داسې انګېرې چې په سېمه کې امریکا د تروریزم پر وړاندې د مبارزې په نامه خپلو اوږد مهالو ګټو لپاره کار کوي چې په دې اساس افغانستان یو ځل بیا د سېمې هېوادونو (چین او روسیې) لپاره اهمیت پیدا کړی دی.

د سېمه‌ییزو چارو شنونکی رفیع الله نیازی همدارنګه باور لري چې شانګهای سازمان هم افغانستان لپاره مهم دی او هم افغانستان د دې سازمان لپاره له سیاسي، امنیتي او اقتصادي اړخه مهم دی، ځکه چې په سېمه کې د اقتصادي راکړې ورکړې دهلیزونه او کانالونه له افغانستان څخه تېرېږي، همدارنګه په سېمه کې د امریکا د نفوذ د مخنیوي لپاره او له بلې خوا په سېمه کې د نا امنیو رامنځته کېدل د دې هېوادونو تر پولو رسېږي او ګټې یې ګواښي او د داعش په نوم مرموزه پدیده او ډله له تصوره څخه لرې په سېمه کې رامنځته کېدل هم د دې هېوادونو ګټې له خطر سره مخ کړې دي چې په دې اساس هم شانګهای سازمان د افغانستان لپاره او هم افغانستان د دې سازمان لپاره ډېر مهم دی.

د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو د پوهنځي استاد جعفر کوهستاني هم وایي: «شانګهای سازمان د افغانستان لپاره په جغرافیایي اساس یو سېمه ییز سازمان دی او سره له دې چې بنسټ یې پر اقتصادي موضوعاتو ولاړ دی، خو امنیتي او دفاعي اړخ هم لري چې د افغانستان لپاره خورا ارزښت لري.»

د دې کارپوه په باور په شانګهای سازمان کې د افغانستان ګډون او له دې لارې د سېمې له هېوادونو سره اړیکې پراخېدل د لویې لاسته راوړنې په توګه بلل کېدای شي او څرګندوي چې افغانستان د سېمه ییزې همکاري په جال کې ځانګړی ځای خپلوي. همدارنګه د ښاغلي کوهستاني په اند دا چې د افغانستان او پاکستان په اړیکو کې ستونزې رامنځته کېږي او پر سوداګریزو اړیکو هم اغېز لري، نو د دې سازمان سره د افغانستان نژدې والی او پکې د شته هېوادونو سره اړیکې کولای شي په سوداګریزه

برخه کې هم په یو یا دوه هېوادونو د افغانستان تکیه را کمه کړي.
د کابل پوهنتون د حقوقو دا استاد په دې نظر هم دی چې که چېرې په امنیتي او د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې د سېمې د هېوادونو تر منځ اړیکې نژدې شي، له افغانستان سره مرسته کوي چې د امنیت د ټینګښت او د مخدره توکو سره د مبارزې په برخه کې ښې لاسته راوړنې ولري.
د سلام خصوصي پوهنتون علمي مرستیال او سیاسي شنونکي دکتور مصباح الله هم څه موده وړاندې له اصلاح رسنیز ګروپ سره په خبرو کې د دې سازمان د ارزښت په هکله ویلي ؤ: دا چې د افغانستان سیاسي، اقتصادي او امنیتي ستونزې د سېمې هېوادونو سره تړلې دي نو د شانګهای سازمان چې د سېمې هېوادونه پکې ګډون لري د افغانستان لپاره حیاتي ارزښت لري او د دې سازمان له لارې خپلې ستونزې په ښه توګه حل کولای شي.
د ښاغلي مصباح الله په باور کله چې په سېمه کې دا ډول سازمانونه او کتلې ځواکمنې شي نړیوال قوتونه هم نشي کولای په آساني په دې سېمه کې لاس وهنه وکړي او د لرې او بېګانه ځواکونو د لاس وهنې زمینې را کمېږي- لکه څنګه چې امریکا غواړي په پراخ ډول په دې سېمه کې و اوسېږي- . چې د دې کارپوه په باور په دې اساس دا ډول سېمه ییز سازمانونه نه یوازې د افغانستان بلکې د دې سېمې لپاره خورا ارزښت لري.

د هند او پاکستان بشپړ غړیتوب او پر افغانستان یې اغېزې:

دا چې افغانستان له یوې خوا د سېمه‌ییزو او نړیوالو قدرتونو د ګټو ښکار شوی دی له بلې خوا د ځینو هېوادونو نیابتي جګړې ته هم اشاره کېږي چې یو له هغه د هند او پاکستان رقابتونه دي اوس مهال په شانګهای سازمان کې د هند او پاکستان بشپړ غړیتوب به پر افغانستان څه اغېز ولري؟
د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی وایي: «د هند او پاکستان غړیتوب د سارک سازمان فلج کړی دی او یو تش په نامه یو سېمه ایېز سازمان دی.» خو د ښاغلي نیازي په وینا د سارک او شانګهای تر منځ توپیر دا دي چې په شانګهای کې تر هند او پاکستان دوه لوي اقتصادي او نظامي قوتونه (روسیه او چین) ګډون لري او کومې پریکړې چې کېږي هغه به د دې دواړو هېوادونو د فکر په آډانه کې وي.
نوموړي باور لري چې اوس مهال په شانګهای سازمان کې د هند او پاکستان شاملیدل پر افغانستان کوم خاص اغېز نه شي درلودلای، ځکه چې دلته پریکړې د بل چا په لاس کې دي. خو په دې کې شک نشته چې په سېمه‌ییزو لوبو او مسایلو کې دا هېوادونه نیابتي جګړه پر مخ بیایي هغه نه یوازې په افغانستان کې بلکې په کشمیر او ځینو نورو هېوادونو کې.
د کابل پوهنتون د حقوقو استاد جعفر کوهستاني وایي: د سېمې هېوادونه یو له بل سره نژدې اړیکې او نه بیلیدونکي جوړښتونه لري، (پاکستان له هند، هند له پاکستان او افغانستان له پاکستان) سره په یو ډول نښتي دي او د دې هېوادونو په یو واحد سنګر کې واقع کېدل دا زمینه برابروي چې خپل منځي ستونزې حل کړي.
د ښاغلي کوهستاني په باور شاید په دې سازمان کې د هند او پاکستان غړیتوب د هغوی سرحدي ستونزې او له افغانستان سره د پاکستان سرحدي ستونزې په بشپړ ډول حل نه کړي خو کولای شي دولتونه دې ته وهڅوي چې د سترو هدفونو لپاره کوچنۍ ستونزې حل کړي او د خپلو ملي ګټو لپاره د ښه ګاونډیتوب لاره خپله کړي.
د سیاسي چارو بل شنونکی دکتور مصباح الله عبدالباقي هم په دې نظر دی چې په سېمه ییزه کچه یوازې هند او پاکستان نه دي چې خپلو کې ستونزې لري، بلکې د ډېرو هېوادونو (چین- روسیې) سرحدي ستونزې او اختلافونه شتون لري چې د ښاغلي مصباح الله په باور د شانګهای په ډول سازمانونه د همدې ستونزو د حل لپاره رامنځته شوي.
د دې کارپوه په وینا دا چې اوس هند او پاکستان د دې سازمان بشپړ غړي شول کېدای شي د دې سازمان له لارې خپلې ستونزې په ښه شکل هواري.

سېمه‌ییز رقابتونه او د شانګهای سازمان پر وړاندې خنډونه:

د شانګهای په سازمان کې ډېر داسې هېوادونه شتون لري چې خپل منځ کې سیاسي او اقتصادي رقابتونه لري لکه چین- روسیه، هند- چین، او په تازه غړیو کې هند او پاکستان، دا رقابتونه تر کومه د شانګهای سازمان د پرمختګ پر وړاندې ستونزې را پورته کولای شي؟
د علومو اکاډمۍ د سېمه‌ییزو څېړنو مرکز مشر رفیع الله نیازی وایي: د سېمې هېوادونه هر یو له یو بل سره رقابتونه لري، په منځنۍ آسیا کې د نفوذ پیدا کولو په موخه د چین او روسیې تر منځ هم رقابت شتون لري.
د ښاغلي نیازي په وینا له دې رقابتونو سره سره د شانګهای سازمان چې په سېمه کې د کوم هدف لپاره -په دې سېمه کې د ناټو د نفوذ مخه نیول دي- دوي سره تر ډېره یوه خوله کړي دي او په ځینو مسایلو کې د دوي رقابتونه په داسې کچه کې نه دي چې یو د بل پر وړاندې ودریږي.
د سېمه‌ییزو چارو د دې شنونکي په اند په ځینو موضوعاتو کې د سېمې هېوادونه د یو بل مرستې ته اړتیا لري چې د چین د (یو کمربند او یوې لارې) موضوع کې چین مجبور دی له هند څخه مرسته وغواړي.
د کابل پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو استاد جعفر کوهستاني وایي: په سېمه کې د شانګهای سازمان رامنځته کول او په دې برخه کې د چین مخکښ والی په ډاګه کوي چې په سېمه کې د همکارۍ لپاره ښه نیت شتون لري، او په باور یې د دې سازمان ښیګڼه دا ده چې له هغه ځایه پیل شوی چې پکې د ستونزو حل ناممکن بلل کېدو.
د دې شنونکي په خبره سېمه ییزې او د آسیا لویې وچې ګټې او د نړۍ سیاسي وضعیت -چې د یو نړیوال ځواک د لوبیدنې ځای ګرځیدلې- د سېمې هېوادونو ګټې له خطر سره مخ کړې دي او مجبور دي خپلې سېمه ییزې ستونزې حل کړي تر څو وکولای شي نړیوال اقتصاد لاسته راوړي.
له بل لوري د ښاغلي کوهستاني په باور د چین، هند او پاکستان د تولیداتو لپاره بهترین بازار په همدې سېمه کې شتون لري چې که چېرې دوي دغه بازار لاسته را نه وړي او لودیځ وال دا بازار ترلاسه کړي په راتلونکې کې دا کار د دې هېوادونو پر وړاندې سترې ستونزې رامنځته کوي.
د کابل پوهنتون د دې استاد په نظر که چېرې د شانګهای سازمان په دې ډول دوام وکړي داسې تمه کېدای شي چې آسیا د نړۍ په څوان ستر ځواک باندې بدله کړي؛ ځکه په دې جغرافیایي حوزه کې ستر او ناکاریدلي اقتصادي امکانات شتون لري او د امریکا او اروپا د لګول شوو او کاریدلو امکاناتو په پرتله ډېر زیات توپیر لري.
د سیاسي چارو بل شنونکی دکتور مصباح الله عبدالباقي هم وایي: د سېمې د ځینو هېوادونو تر منځ اختلافونه او رقابتونه د شانګهای سازمان پر وړاندې خنډ نه بلکې د رامنځته کېدو لامل یې ګرځیدلي دي.
د نوموړي کارپوه په باور د اختلافونو او ستونزو سره سره څه داسې مشترک ځیزونه شتون لري چې د سېمې هېوادونه یې د شانګهای سازمان په څېر سازمانونو کې سره نژدې کړي دي او د خپلو ستونزو د حل لپاره هڅې کوي.
د دې استاد په خبره د هېوادونو تر منځ به ستونزې شتون ولري خو دا ډول کنفرانسونه د همکارۍ مشترک ځیزونه او ګټې لټوي چې د سېمې د هېوادونو لپاره د ګټې نه خالي نه دی.
د یادولو ده چې د پخواني شوروي اتحاد له پرځیدو وروسته د منځنۍ آسیا هېوادونو د سرحدي اختلافات د حل په موخه د (روسیې، چین، تاجکستان، قزاقستان او قرغیزستان) په واسطه د (شانګهای پنځه) ډله رامنځته شوه چې په ۲۰۰۱ زیږدیز کال کې له دې ډلې سره د ازبکستان تر یو ځای کېدو وروسته په رسمي بڼه د شانګهای د همکاریو سازمان به توګه ونومول شو.

بحران قطر و آمادگی به نبردهای مکه!

نویسنده: ابراهیم قراغول
ترجمه: عبدالخالق احسان

خیلی آسان است که مقیاس‌های شرق میانه یک شبه دگرگون شده و جبهه‌ها تغییر خورد؛ چون درین منطقه، دوستی‌ها و دشمنی‌ها ماندگار نیست و خیانت و فریب‌کاری، حد و مرزی نمی‌شناسد. یگانه مسئله‌ی ثابت و دوامدار، نظام‌های برده و تحت الحمایه می‌باشد؛ لذا مدیریت شرق میانه، با آموزه‌ها و دستورات و تشکیل جبهه‌های داخلی، ساده است و ممکن است که این جبهه‌ها در دولت همسایه رشد نماید و یا از شهروندان باشد.

ممکن است که آنان را به بهانه‌ی (جنگ به خاطر اسلام) بر جنگ علیه اسلام سوق دهند و چقدر آسان است، که تسلط سیاسی شان را در مقابل نفت و گاز طبیعی و رفاه اقتصادی بگیرند و چه ساده است که استبداد اقتصادی را بر آنان مسلط سازند و شرف، کرامت و سرچشمه‌ی عزت و عظمت شان را بربایند.

یگانه مورد ثابت درین منطقه، قبول اشغال‌گری و زبونی است!

این منطقه‌ی جغرافیایی، توسط امریکا و بریتانیا اداره می‌شود؛ تصمیم‌های این منطقه، از آن جا صادر می‌گردد، آموزه‌ها و دستورات از آن جا وارد شده و مسؤولیت‌ها و صلاحیت‌ها را درین منطقه تقسیم می‌نمایند، همه رهبران شان از آن بالا تعیین شده و تحت مدیریت اند؛ این کشورهای که در ظاهر مستقل معلوم می‌شوند، به صورت پنهانی اشغال شده اند؛ آری! این منطقه شرق میانه است، منطقه‌ی اشغالی که چقدر آسان است، تجزیه، پراکندگی جوامع آن و ایجاد جنگ‌های گروهی و نژادی در آن.

آری! یگانه موضوع ثابت و غیر قابل تغییر درین منطقه، سهولت تجزیه و تقسیم همه دولت‌هاست، مثل: عراق، سوریه، لیبیا، یمن و... این توطئه ایست که از پایان جنگ سرد تا امروز، برای آن پلان ریزی می‌شود، طوری که امنیت و آرامش این کشورها برهم خورده و برخی اشغال گردیده و جنگ‌های گروهی و طائفی در آن به راه افتاده و گروه‌های تروریستی درین مناطق فعال گردیده که ادامه‌ی زندگی درین مناطق را طاقت فرسا ساخته است.

بحران قطر، پژواک جنگ ایران و سعودی:

دولت‌های دیگر مثل: ترکیه، ایران، سعودی، پاکستان، اندونیزیا و افریقای شمالی نیز، مورد هدف اند؛ چون این اشغال‌گران، پلان اشغال همه دولت‌ها را دارند، خواه با امریکا پیمان داشته باشند و یا دشمنی نمایند؛ اما به هر دولتی پلان اشغالی ویژه‌ی در نظر گرفته اند.

در مورد این کشورها، برنامه طوری است که تجزیه شده و به کشورهای کوچکی تقسیم شوند، چنان‌چه در سوریه، لیبیا و عراق جریان دارد.

پیش از پایان بحران سوریه، بحران قطر را راه اندازی نمودند. اولین فعالیت رئیس جمهور امریکا ترامپ، شعله ور ساختن جنگ بین ایران و سعودی خواهد بود. واضح است که آموزه ها و دستورات ترامپ، که به «خائن عرب» مسمی گردیده است، با اولین سفر او به سعودی در یک لحظه اجرا شده و تمام راه‌های زمینی، دریایی و هوایی مسدود گردید؛ گویا که عملیه‌ی اشغال‌گری از قبل آماده شده بود.

تهاجم به تهران، یک عملیه‌ی استخباراتی است

در بحبوحه‌ی این حوادث پیچیده، گروه داعش به صورت ناگهانی به شهر تهران حمله کرده و دو مرکز مهم ملی ایران یعنی پارلمان و آرامگاه خمینی را مورد هدف قرار داد؛ این حمله به خاطری شگفت آور بود، که اولین بار است داعش ایران را هدف قرار می‌دهد و تا هنوز هیچ حمله‌ی را ضد اسرائیل و ایران سازماندهی نکرده بود و مشهور است که داعش تنها اهل سنت را مورد حمله قرار می‌دهد و مخالفت با ایران به گونه‌ی سمبولیک و نمایشی بوده است.

